هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل (۲۷۹) ماه ذوالحجةالحرام ۱۴۴۵ هـ ق مطابق جوزا ۱۴۰۳ هـ ش

زده کړه د انسان معنوي ښایست دی.

# د پوهنې وزارت سرپرست د روسیې فدراسیون په کازان ښار کې د پوهنې وزیرانو دویم نړیوال فورم ته د وینا مهم ټکي



د پوهنې وزارت سرپرست د روسیې فدراسیون په کازان ښار کې د پوهنې وزیرانو دویم نړیوال فورم ته د وینا په ترڅ کې، د افغانستان د پوهنیز وضعیت په تړاو خبرې وکړې او د خبرو په ترڅ کې یې د یاد فورم ګډون والو ته د ښوونیز نظام په برخه کې د شویو پرمختګونو، اړتیاوو او یو شمېر نورو اړوندو مهمو مسایلو په تړاو معلومات وړاندې کړل.

د پوهنې وزارت سرپرست وویل: افغانستان حق لري، تر څو د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر په مهمو او نړیوالو فورمونو کې غړیتوب ولري، چې په دې ډول وکولای شي، خپلې تجربې له نړیوالو سره شریکې او د نورو له

۲مخ

## سرلیکنه

## دیني او عصري تعلیم مو له غلامۍ او احتیاجۍ ژغوري

په دې کې شک نشته چې د یوه هېواد اقتصادي او سیاسي وده او پرمختګ د هغه هېواد د وګړو د تعلیم او تحصیل کچې او پیاوړي ښوونیز نظام سره نېغ په نېغه تړل شوي دي. هغه هېوادونه چې د جګړو له پاتې شونو ایرو را پورته شویدي او تر هر څه د مخه یې ښوونې او روزنې ته لومړیتوب ورکړی نن ورځ د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې دي او وګړي یې هوسا ژوند لري.

زموږ ګران هېواد افغانستان چې لسېزو جګړو یې ټول مادي او معنوي بنسټونه زیانمن کړل خو لله الحمد چې د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره د اشغال لمن ټوله او په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم شوی دی ددې وخت را رسېدلی چې د هېواد بچیان د دیني او عصري علومو په ګانه سینګار کړو تر څو د سیالانو سیال شو. افغانستان د یوه اسلامي هېواد په توګه چې ټول وګړي یې لله الحمد مسلمانان دي تر هر څه د مخه د اسلامي علومو ودې ته اړتیا لري

۲مخ

## د پوهنې پخواني وزیر ډاکټر فاروق وردګ د یاد وزارت له سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا سره وکتل

په یاده کتنه کې ښاغلي ډاکټر فاروق وردګ د پوهنې وزارت له مشرتابه څخه د یادې کتنې لپاره د وخت ځانګړي کولو له امله مننه وکړه او د افغانستان ا.ا. له حاکمیت را په دېخوا یې په هېواد کې د پوهنې وزارت د کړنو او لاسته راوړنو د ستایلو ترڅنګ، د هېوا په ټولو برخو کې د مدارسو او ښوونځیو په ګډون د ټولو ښوونیزو بنسټونو د پراختیا او تأسیس په برخه کې ترسره شوي فعالیتونه د پام وړ وبلل.

نوموړي وویل: دی چمتو دی، چې خپلې ټولې وړتیاوې او تجربې په افغانستان کې د پوهنیز نظام د لازیات پرمختګ او بډاینې په موخه د پوهنې وزارت له مشرتابه سره شریکې کړي.

ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا د پوهنې پخواني وزیر ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، د یاد وزارت مشرتابه په دې باور دی لکه څنګه چې د یوې ټولنې وګړي روزنیزو پلانونو په پلي کولو سره به وکولای شو، د پوهنیز نظام په برخه کې ټولې شته ستونزې له منځه یوسو او ډېر ژر به دې موخې ته ورسېږو.



اوبو ته اړتیا لري، موږ هم د دیني علومو ترڅنګ د عصري علومو لا پیاوړتیا او زده کړې ته هم جدي اړتیا لرو او زه تاسو ته ډاډ درکوم، چې د پوهنې وزارت د ځانګړو ښوونیزو او

نوموړي زیاته کړه: له ستاسو او هغو هېوادوالو څخه هرکلی کوو چې د ښوونیز نظام د لاپیاوړتیا او بډاینې په برخه کې خپلې علمي تجربې له موږ سره شریکوي.

## د بې وزله ماشوم له لوڅو پښو بهېدلې وینې به دا اغزنه دښته په ګلونو سینګار کړي

هغوی چې د معارف نیالګي په خپلو خولو او وینو خړوبوي او تر هر څه د علم او پوهې حاصلولو ته لومړیتوب ورکوي خامخا به یې بریا په برخه کیږي. له ښکه مرغه چې د اسلامي امارت تر واکمنېدو را په دېخوا د علم او پوهې ودې او پراختیا ته د پوهنې وزارت د چارواکو ځانګړې پاملرنه، له معارف د ولس پراخه ملاتړ او مینې د هېواد روښانه او ښېرازه راتلونکې لپاره تر هر بل وخت هیلې زیاتې کړي. کله چې د یوه هېواد وګړي د علم زده کړې ته لومړیتوب ورکړي او پدې برخه



کې مرسته وکړي نو د هېواد روښانه راتلونکې ورسره تضمینېږي.

پدې لیکنه کې په میدان وردک ولایت کې د روح الله په نوم د یو بې وزله خو د علم په زیور سمبال او له معارف سره د بې سارې مینې هغه کړنې ته اشاره کوو چې په ترسره کولو سره یې له معارف سره د جنون تر حده مینه څرګنده کړه او پدې اقدام سره یې د خپل ښوونځي او د یاد ولایت د پوهنې ریاست چارواکي حیران کړل.

تېره اونۍ د میدان وردک ولایت د سید آباد ولسوالۍ اړوند د ( کفتان تاج محمد خان ) لېسې د دریم ټولګي زده کوونکي روح الله د ایمل زوی سل افغانۍ چې پلار یې ده ته د بوټونو د اخیستو لپاره ورکړې وې خو ده د بوټونو د اخیستو په ځای هغه سل افغانۍ د خپل ښوونځي د ترمیم لپاره خپل ښوونکي ته ورکړې.

محمد همایون نېکمل د سید آباد ولسوالۍ د پوهنې آمر وایې : روح الله د "کفتان تاج محمد خان "لېسې د دریم ټولګي زده کوونکی دی چې کورنی اقتصاد یې ډېر ضعیف دی پلار یې آزاد کارو بار کوي چې په سختۍ سره د ژوند اړتیاوې پوره کوي ، هغه زیاتوي د علم او پوهې سره د دې تنکي ماشوم بې سارې مینې او دده دا اقدام د ده او نورو ښوونکو اوښکې توی کړې. دی وایې: له څو ورځو را پدېخوا یې

۲مخ

## برگزاری امتحان تثبیت سویه تعلیمی مجاهدین در ولایت لغمان



ریاست معارف ولایت لغمان، به هدف فراهم سازی زمینه آموزش به مجاهدین امارت اسلامی افغانستان و جذب آنها به مکاتب رسمی کشور، از نزد ۵۰۰تن اشتراک کننده گان واجد شرایط، امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ نمود.

مولوی شاه جهان ساجد رئیس معارف ولایت لغمان می‌گوید: داوطلبان به سبب فراهم نبودن زمینه آموزش و فعالیت های جهادی شان از آموزش باز مانده بودند که با مساعد شدن زمینه تعلیم و تربیه، آنان می خواهند دروس شان را تکمیل نمایند.

اشتراک کننده‌گان نیز با اظهار خوشی از سایر هموطنان و همکاران شان خواستند تا با استفاده از فرصت‌های میسر شده به ادامه تعلیمات خود در بخش های علوم عصری و دینی ادامه دهند.

## په پکتیا کې د ۱۰۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۸ بابه ښوونځیو د رغولو چارې پیل شوې

پوهنې وزارت له لوري، د پوهنې د یو همکار بنسټ په مالي مرسته، د پکتیا ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ۸ بابه ښوونځیو د رغولو چارې پیل شوې.

د یادو ښوونځیو ودانیو د بنسټ ډبرې د پکتیا ولایت مقام د مرستیال شیخ انعام الله صلاح الدین او پوهنې رئیس الحاج مولوي عبدالقیوم فاروقي له خوا په داسې حال کې کېښودل شوې، چې د پوهنې او سیمه ییزو ادارو یو شمېر مسئولینو، قومي مخورو او ښوونکو هم حضور درلود.

د پکتیا ولایت پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا، د یادو ښوونځیو ودانۍ په پاخه او اساسي ډول جوړېږي، چې د پوهنې او



حفظ الصحي په برخو کې به ټولې لازمې آسانتیاوې ولري.د یادو ښوونیزو بنسټونو ټولیز لګښت ۱۰۲ میلیونه افغانۍ اټکل شوی دی.

۲مخ

# زده کوونکی باید تل د نیکو اخلاقو څښتن او د مشرانو درناوی وکړي



له غوره او ممتازو زده کوونکو سره د مرکو په لړ کې مو دا ځل د کابل ښار د (محمد هاشم میوندوال منځني ښوونځي) د نهم ټولګي له ممتاز زده کوونکي «محمد مجتبی جرئت »سره ځانګړې مرکه کړې او دده د شخصي ژوند ، د زده کړو د بهیر او دا چې دده د بریالیتوب راز په څه کې دی؟ پوښتلي، چې ددې مرکې په ترڅ کې به یې خپاره کړو تر څو نور ګران زده کوونکي هم دده په پله پل کېږدي او په خپل ژوند او ښوونځي کې تل بریالي وي.

محمد مجتبی جرئت د نادرشاه جرئت زوی دی چې شاوخوا ۱۶ کاله عمر لري او د خپل ښوونځي د ممتازو زده کوونکو له ډلې یو غوره او د نیکو اخلاقو څښتن دی. مجتبی د خپل بریالیتوب راز د خپلو والدینو او خپل زیار او هڅو نتیجه بولي چې په وینا یې د درسونو په زده کړه کې ډېر زحمت کاږي او تل هڅه کوي چې نوی شی زده کړي. هغه وایي د مور او پلار په لارښوونه او مرسته د انګلیسي ژبې او کمپیوټر کورس ته ځم له کورس سربېره د نورو کتابونو په ځانګړې توګه شعري ټولګې هم مطالعه کوم ځکه له شعر او شاعرۍ سره مینه لرم.

ورزش چې د انسان د جسمي او ذهني روغتیا ساتلو لپاره مهم دی، مجتبی هم د مور او پلار سره د کور په کارونو کې تر مرستې وروسته ورزش کوي، هغه د کرکیټ سره ځانګړې مینه لري او وایي چې ددې ورزش مینه وال دی هغه د خپلو همځولو په منځ کې په کرکیټ لوبه کې هم تکړه دی.

مجتبی وایي: د ښوونځي او مدرسې زده کوونکي باید په خپل چاپېریال کې چې هلته ژوند کوي د ښو اخلاقو بېلګه وي چې نور ددوی له اخلاقو او ښه چلند متأثره شي. همداراز یو زده کوونکی باید تل د خپلو مشرانو او ښوونکو درناوی وکړي او په کشرانو شفقت ولري، کله چې په ټولګي کې د ښوونکي لخوا درس تشریح کېږي باید درس ته متوجې وي یا په بل عبارت جسماً او روحاً په ټولګي کې حضور ولري. د هغه په خبره که چېرې زده کوونکی په ټولګي کې په ښه توګه درس ته غوږ نشي نو بیا نشي کولای چې هغه درس زده کړي کوم فرصت چې دی د زده کړې لپاره لري هغه یې له لاسه وځي چې بیا د هغه فرصت لاسته راوړل ناممکن دي. مجتبی همدارنګه وایي ددې لپاره چې زده کوونکي په خپلو درسونو او د ژوند په چارو کې بریالي وي باید چې خپلې ټولې چارې او درسي پروګرامونه د یوه منظم مهال وېش له مخې تنظیم کړي، ځکه که یو زده کوونکی یا هر شخص په خپل ژوند کې د چارو د سمون لپاره منظم مهال وېش او د ژوندانه لپاره ټاکلې موخې ونلري هېڅکله به په ژوند کې بریالی نه وي، هر انسان باید په ژوند کې یو هدف ولري او خپل ټاکلي هدف ته د رسېدو لپاره زیار او زحمت وګالي.

مجتبی وایي په راتلونکې کې غواړم چې یو تکړه انجنیر شم او د خپل مسلک په مټ د خپل هېواد په آبادۍ او ښېرازۍ کې برخه واخلم . هغه همداراز د هېواد راتلونکې ته ډېرهیله مند دی او وایي هیله مې ده چې په راتلونکې کې هېواد آباد او پرمختللی وګورم او دا چې نن کوم فرصتونه او امنیت په هېواد کې تر سترګو کېږي هیله مو لا نوره هم زیاتېږي چې ډېر ژر به افغانستان د پرمختللو هېوادونو په کتار کې خپل ځای پیدا کړي.

مجتبی وایي ځوانان د یوه هېواد د ملا د تیر په څېر دي که چېرې د یوه هېواد ځوانان د علم په ګاڼه سمبال وي نو خامخا به یې هېواد یو پرمختللی او وګړي به یې هوسا ژوند ولري، د هغه په خبره زموږ د هېواد ځوانان هم باید له شته فرصت څخه ګټه پورته کړي او په هر ډول شرایطو کې خپلې زده کړې تر سره کړي تر څو په راتلونکې کې د هېواد د خدمت جوګه شي. هغه زیاتوي هېواد مو هغه وخت د آبادۍ او ښېرازۍ په لور درومي چې تل پاتې سوله او یو پیاوړی ښوونیز نظام ولرو همدارنګه مو ځوانان په هره برخه کې ځانونه د علم او پوهې په ګاڼه سمبال کړي او په صادقانه توګه خپل هېواد او هېوادوالو ته خدمت وکړي.

مجتبی په پای کې له ټولو ځوانانو غواړي چې تل متحد و اوسي او د هر ډول قومي او ژبني تعصبانو څخه چې د افغانانو په وړاندې د دښمنانو دسیسه ده ځان وساتي.

## د پوهنې وزارت سرپرست ....

تجربو څخه د خپل پوهنیز ډګر د لاغوره والي په برخه کې ګټه واخلي. نوموړي زیاته کړه، دغه ډول فورمونه کولای شي، د افغانستان د پوهنیز نظام په اړه واضح، دقیق او پر وخت معلومات او پیغام تر نړیوالو ورسوي او هغوی د پوهنې په برخه کې پر هغه څه چې اوس روان دي، د یو مثبت فکتور په توګه تمرکز وکړي او له موږ سره په هغو برخو کې مرستې وکړي چې د پوهنیز نظام د کیفیت، لاسرسي اومالي آسانتیاوو په برخه کې ورته اړتیا ده، تر څو افغانستان په سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې لازیات پرمختګ وکړي او په ترڅ کې یې افغانان د دایمي ثبات او ټیکاو څښتنان شي.همدا ډول د پوهنې وزارت سرپرست څرګنده کړه، چې دغسې نړیوال ستېجونه یومهم فرصت دی، تر څو هغه خنډونه چې اوس موجود دي، ژر تر ژره حل او ټولو ته د زده کړو ترلاسه کولو مساوي حق ورکړل شي.

په ورته مهال نوموړي وویل: افغانستان تازه له ۴۰ کلنې جګړې اوناورین څخه راوتلی دی، چې اوسمهال یې وګړي په دایمي سراسري ثبات اوسوله کې ژوند کوي، لکه د نورو برخو په شان، د پوهنې په برخه کې هم افغانستان خورا زیات زیانونه لیدلي دي، زه د افغانستان.ا.ا. د پوهنې وزارت په استازیتوب تاسو ته ډاډ درکوم، چې موږ د اسلامي او افغاني ارزښتونو په رڼا کې باکیفیته او متوازنو زده کړو ته ژمن یو او دا پر خپل حکومت د ولس مسلم حق دی، الحمدلله موږ اوس په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د پام وړ پرمختګونه اومثبت حرکت لرو، اوسمهال زموږ د پوهنې وزارت تر چتر لاندې تر ۱۰ میلیونه زیات زده کوونکي چې درې نیم میلیونه یې نجونې دي، په ۳۰ زره دولتي او خصوصي ښوونیزو بنسټونو کې په زده کړو بوخت دي او د شاوخوا ۳ سوه زره ښوونکو له لوري ورته تدریس ورکول کېږي او د دې ښوونکو له ډلې یې ۳۰٪ ښځینه ښوونکې دي، چې په لومړنیو ښوونځیو کې زده کوونکو ته په تدریس بوختې دي.

نوموړي په پای کې په نړیوالو غږ وکړ چې د ښوونیز نظام د لاپرمختګ په برخه کې دې له پوهنې وزارت څخه هر اړخیز ملاتړ وکړي.

## دیني او عصري تعلیم مو...

تر څو مو هېوادوال خپل شرعي مسئولیتونه په ښه توګه وپېژني او پرې عمل وکړي ، همدارنګه نني عصر چې د تکنالوژۍ د عصر په نوم هم یادېږي د عصري علومو وده مهمه اړتیا ده، د پوهنې وزارت دې اړتیا ته په پام سره د ښوونیز نظام د لا پیاوړتیا او نني عصر له غوښتنو سره د ټول هېواد په کچه داسې پروګرامونه پلي کړي او یا هم د پلي کېدو په حال کې دي چې ډېر ژر به زموږ نني نسل چې د سبا ورځې مشران به وي د دیني او عصري علومو په ګاڼه سمبال او د هېواد د آبادۍ لپاره ټولنې ته وړاندې کړي چې په راتلونکې کې به د همدې علومو په مټ هېواد له احتیاجۍ او غلامۍ ژغوري او دا بهیر به راتلونکو نسلونو ته په میراث پرېږدي. د دیني او عصري علوم بېلګه لکه د مرغه دوه وزره دي چې د یو بل له مرستې پرته د مرغه الوتل ناممکن دي همدارنګه زموږ د هېواد د ودې او ترقۍ لپاره د دواړو علومو وده او پراختیا اړینه ده، چې د پوهنې وزارت پدې برخه کې تر دې دمه ډېر کار کړی او لاهم هڅې روانې دي چې یوه بېلګه یې د پوهنې وزارت له لوري د ښوونځي او مدرسې تر منځ د واټن له منځه وړلو پالیسي یادولی شو چې د هېوادوالو له تود هرکلي سره مخ شوې او په ښه توګه پلي کېږي. اوس چې د الله جل جلاله په فضل او کرم زموږ په هېواد کې اسلامي نظام حاکم او په ټول هېواد کې د امن او سولې لمن غوړېدلې راځئ چې لدې لوی فرصت څخه د خپل هېواد د آبادۍ او د خپلو بچیانو په سالمه روزنه کې پوره ګټه واخلو.

له یو ویتنامي پوځي څخه پوښتنه وشوه، تر اوږدو جګړو وروسته کوم لامل وو چې هېواد مو دومره ژر په پښو ودروه او د پرمختګ په لور مزل مو په دومره کم وخت کې تر سره کړ؟ هغه په ځواب کې وویل: « کله چې زموږ په هېواد کې جګړه ختمه شوه شاته مو ونه کتل چې څوک ملامت او څوک سلامت وو، ولې جګړه وشوه او ولې ورانۍ وشو بلکه له شته فرصت څخه مو د هېواد په بیا رغاونه کې ګټه واخیسته، هیڅکله مو په تېره زمانه کې ځان بندي نکړ هغه د امید کړکۍ چې راته پرانیستل شوې وه په هماغه لوري پر مخ ولاړو».

نو موږ ته هم لازمه ده چې د خپل هېواد آبادۍ ته متې راونغاړو او له شته فرصت څخه اعظمي ګټه پورته کړو. د هېواد هر وګړي ته په کار ده چې دا ټاټوبۍ خپل کورو ګڼي او په هره برخه کې چې کولای شي تر خپله وسه د هېواد آبادي او پرمختګ ته کار وکړي، همداراز د علم او پوهې په وده او پرمختګ کې هر څه باید د پوهنې وزارت مسئولیت ونه بولو بلکې دا د هر وګړي مسئولیت دی چې د دې هېواد د بچیانو په سالمه روزنه کې ونډه واخلي، کورنۍ د خپلو بچیانو سره د زده کړو په بهیر کې، درانه ښوونکي په صادقانه توګه د خپل مسئولیت په ادا کولو کې او ولس د ښوونې او روزنې د مادي او معنوي ملاتړ په برخه کې باید په ګډه کار وکړي تر څو وکولای شو خپل ګلالي ماشومان په ښه توګه وروزو .

که څه هم چې په تېرو دوه کلونو کې دا مسئولیت په ښه توګه ټولو هېوادوالو ادا کړی دی او له معارف څخه یې مادي او معنوي ملاتړ کړی دی چې ددوی په مرسته د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په سلګونو مدرسې او ښوونځي جوړ شوي او د هېواد په لس ګونو زره زده کوونکو ته د زده کړې خوندي چاپېریال برابر شوی خو زموږ د هېواد حالاتو ته په کتو لا ډېر کار ته اړتیا ده او دا ملاتړ باید لا پراخ او په یوه دود بدل شي.

د هرې ورځې په تېرېدو سره د هېواد په بېلابېلو برخو کې د ښوونیز نظام څخه د ولس پراخ ملاتړ د روښانه سبا زیری ورکوي لېرې نده چې زموږ او ستاسو د انتظار خلاف مو هېواد په کم وخت کې د پرمختګ او ترقۍ تر لوړو څوکو ورسیږي.

## د بې وزله ماشوم ...

د ښوونځي د ترمیم او رنګ لپاره کمپاین په لار اچولی وو تر څو له ولس څخه مالي مرسته تر لاسه کړي چې دا چاره د ولس له تود هرکلي سره مخ شوه چې په پایله کې ددې ولسوالي د اوسېدونکو لخوا تریوه حده مرستې راټولې شوې، خو تر ټولو خوږه شیبه هغه وه چې ده ته خبر را ورسېد چې یو تنکي ماشوم سل افغانۍ چې پلار یې ده ته د بوټونو د اخیستو لپاره ورکړې وې خو هغه بوټ نه وو اخیستي او د بوټو پیسې یې د ښوونځي د ترمیم لپاره خپل ښوونکي ته د مرستې په ډول ورکړې وې. نوموړي زیاته کړه چې یاد ماشوم ددې پیسو تر مرستې وروسته درې ورځې ښوونځي ته نه وو راغلی کله چې روح الله له دریو ورځو وروسته ښوونځي ته حاضر شوی وو نو یې ښوونکي دده د غیر حاضرۍ لامل پوښتنه کړې وه، هغه په ډېرې عاجزۍ ځواب ورکړی وو، استاده !« ما د خپلو بوټو پیسې چې پلار مې راکړې وې د ښوونځي د ترمیم لپاره ورکړې له هغه وروسته زما بوټ نه وو خو نن مې مور زموږ د چرګانو هګۍ وپلورلې دومره پیسې شوې چې چپلکې مې پرې واخیستې او ښوونځي ته راغلم».

ایمیل خان د روح الله پلار وایي زوی ته یې الله جل جلاله ښه استعداد ورکړی او له تعلیم سره بې سارې مینه لري، د روح الله پلار ناروغ دی او له سختې بې وزلۍ سر ټکوي خو وایي چې په هر ډول شرایطو کې به سختې په ځان ومني خو د زوی د زده کړې مخه به ونه نیسي، هغه وایي زوی یې په میاشتو میاشتو په زاړو بوټونو کې ښوونځي ته تللو تر دې چې نوریې بوټ له منځه لاړل ما په ډېرې سختۍ سره هغه ته سل افغانۍ برابرې کړې چې بوټ پرې واخلي مګر هغه د بوټو په ځای هغه پیسې د ښوونځي ترمیم لپاره مرسته وکړه.

په همدې حال کې د پوهنې وزارت ویاند قاري منصور احمد حمزه له زده کړې او ښوونځي سره د روح الله په نوم ددغه ماشوم مینه او احساس ستایې او دا د هېوادوالو له لوري د پوهنې له بهیر سره د پراخ ملاتړ او بې سارې مینې ښښه یادوي. ښاغلي حمز ه، زیاته کړه چې د پوهنې وزارت مشرتابه د هر هېوادوال له مرستو چې په هېواد کې د ښوونې او روزنې په وده کې مرسته کوي هرکلی کوي. هغه همداراز وویل چې د یاد ماشوم دغه کړنه د ستایلو وړ ده او د پوهنې وزارت مشرتابه په پام کې لري چې په نږدې راتلونکې کې دغه ماشوم د لا هڅونې په موخه د پوهنې وزارت له سرپرست سره د لېدنې او تشویق په پار کابل ته را وبولي.

د یادونې وړ ده چې په هېواد کې د سولې په راتګ او د اسلامي نظام تر حاکمیت را پدېخوا د هېواد په هر ولایت کې یو زیات شمېر هېوادوالو د ښوونځیو جوړونې او بیارغونې په موخه د پوهنې وزارت سره مالي مرسته کړې او ګڼ شمېر هېوادوالو بیا د ښوونځیو او مدرسو د جوړونې په موخه خپلې ځمکې وقف کړې چې د پوهنې وزارت د مسئولینو له لوري له پوهنې سره د ولس ددې پراخ ملاتړ څخه قدرداني شوې، خو دا چې یو بې وزله ماشوم د خپلو بوټونو پیسې د ښوونځي د ترمیم لپاره مرسته کړې دا یو بې سار اقدام وو چې د هېوادوالو او مسئولینو له تود هرکلي سره مخ شو.

## په پکتیا کې ۱۰۲ میلیونو ...

دا په داسې حال کې ده چې د سږ کال له پیل تر دې مهاله د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د لسګونو مدرسو او ښوونځیو د جوړېدو چارې د پوهنې وزارت له لوري د ولس په مرسته پیل شوي چې په دې سره به زرګونو زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شي.

## لنډ خبرونه

### سمنگان

ریاست معارف ولایت سمنگان طی برگزاری یک آزمون رقابت آزاد، از ۵۷۰ تن داوطلب واجد شرایط امتحان اخذ نمود تا افرادی کامیاب شده به صفت اعضای انکشاف مسلکی مدرسین استخدام شوند.

### کندز

د کندز ولایت پوهنې ریاست مسئولینو، د یاد ولایت د چهاردرې ولسوالۍ د حضرت خباب په لومړني ښوونځي کې د یو شمېر رغنیزو پروژو (احاطوي دېوال جوړول، اړینو ملحقاتو جوړول او د پاکو اوبو څاګانو کیندلو) له چارو څخه څارنه وکړه.

### سرپل

مسابقه سیرت النبی (صلی الله علیه وسلم)، میان ۱۰۰۰ تن شاگردان ذکور و اناث مکاتب ولسوالی گوسفندی ولایت سرپل برگزار گردید.

### تخار

ریاست معارف ولایت تخار، امتحان رقابتی را تحت نام امارت شناسی یک هزار و ۲۰۰ تن شاگردان مدارس دینی خصوصی و مکاتب رسمی آن ولایت برگزار نمود.

### هلمند

یک نهاد کمک کننده به معارف در همکاری با ریاست معارف ولایت هلمند، برای شاگردان مکاتب مرکز و ولسوالی های آن ولایت ۲هزارو ۲۴۰ کارتن مواد درسی و قرطاسیه توزیع نمود.

### غزني

د غزني ولایت پوهنې ریاست د رسمي او خصوصي ښوونځیو د ۳۰۰ تنو زده کوونکو ترمنځ د پوهنې مسئولینو او د سیمه ییزو ادارو د چارواکو په ګډون د سیرت النبي (صلی الله علیه وسلم) سیالی ترسره کړې.

### میدان وردک

د پوهنې ریاست مسئولینو او علماوو د سیداباد ولسوالۍ د جمال الدین وردګ دارالحفاظ د ۳۷ تنو حافظانو پرسرونو د فضیلت پګړۍ کېښودې.

### هرات

رقابت های علمی « شناخت نظام اسلامی » میان ۱۲۰۰ تن شاگردان مکاتب خصوصی مرکز ولایت هرات راه اندازی شد.

### بلخ

مجلس آفر گشایی پروژه های ترمیماتی ۲۳ باب مکتب در مرکز و ولسوالی های آن ولایت دایر گردید.

### بدخشان

امتحان رقابتی از ۱۱۳ تن واجدین شرایط برای بست های مدرسین مدارس ولایت بدخشان اخذ شد.

### لوګر

په لوګر ولایت کې د سواد زده کړې د ۱۵۵ بابه کورسونو په جوړولو سره ۲زره ۵۰۰ تنو هېوادوالو ته د سواد زده کړې آسانتیا برابره شوه.

### بلخ، سرپل و کندز

طبق تقسیم اوقات، امتحان کانکور از فارغان صنوف ۱۲ ولایت های بلخ، سرپل و کندز اخذ گردید.

## د ماشوم احساس او عاطفه هغه څه دي چې ډېری افغان والدین ورته پام نه کوي

عیسی ستانکزی

هره مور او پلار دا هیله لري چې ماشوم يې ښه وروزل شي او د راتلونکي ژوند لپاره په ځان باور پيدا کړي.

په نوره نړۍ کې نن سبا يوازې تعليم او د کار روزګار پيدا کول لومړيتوب نه دی، والدين د زده کړو او کار تر څنګ دا هم غواړي چې ماشوم يې له رواني او فزيکي پلوه سالم وي، سالم خواړه وخوري، سم ملګري پيدا کړي او کافي بدني فعاليت ولري. تر ټولو مهمه خبره چې نن سبا بايد اهميت ورکړل شي له رواني او احساسي پلوه ماشوم ته پاملرنه ده.

دا هغه څه دي چې ځينې افغان ميندې او پلرونه کله هم ورته توجه نه کوي. په دې برخه کې مهمه مسله د ماشوم



احساساتو ته پاملرنه ده.

احساسات مورِ.ته په بېلا بېلو شرايطو کې دا را زده کوي چې څنګه عمل وکړو. کله چې ماشوم دا زده کړي چې څه ډول احساس لري نو د خپل دغه احساس سره سم عمل کوي او دغه سم يا ناسم احساس په عقدو او کينو نه بدلېږي. څېړنو ثابته کړې هغه ماشومان چې دخپلو احساساتو او عاطفې د کنټرول او درک وړتيا ولري په کور او بهر کې بريالي وي. دغه بحث ډېر پراخ دی، په ناروې هېواد کې چې د نړۍ په سطحه هوسا او آرام هېواد دی د ماشوم احساس او عاطفي روزنې ته ډېره پاملرنه کېږي.

دبېلګې په توګه : د ناروې په ښونځيو کې د انسان د بېلابېلو احساساتو د تشريح لپاره کورسونه جوړېږي. چې بېلابېلې ويډيوګانې پکې ماشومانو ته ورښيي په يوه ويډيو کې ښودل کيږي چې کله په کورنۍ کې نوی ماشوم پيدا شي مشره خور او ورور ورسره بخيلي کوي. په ويډيو کې ماشومانو ته ورزده کوي چې دغه د بخيلۍ احساس طبيعي دی او ماشوم پوهېږي چې د بخيلۍ تر څنګ له واړه ورور او ورې خور سره مينه هم کېداې شي. په دغسې حالت کې دغه طبيعي بخيلي په عقدو او کينو نه بدليږي.

مور او پلار بايد د ماشوم له څېرې او ظاهره د هغه /هغې په احساس پوه شي. بايد ماشوم ته ورزده کړو چې څنګه خپل احساس بيان کړي، مورِ.حتی په لوينې د خپل احساس د بيان وړتيا نه لرو. له ماشوم سره خبرې وکړئ کله چې احساس وکړئ چې ماشوم خپه، خوشاله، پرېدلی، هيجاني، او خپه دی ورته ووايئ چې ما ته ښکاري ته خپه، خوشاله، هيجاني او يا غوصه يې . پروا نه کوي چې ستاسو اټکل ناسم وي. غوره ده ماشوم د دغو بېلابېلو احساساتو په توپير پوه شي او خپل احساس شريک کړای شي. هغه کسان چې د خپل احساس د شريکولو وړتيا لري په ژوند کې خوشاله وي او دا هغه څه دي چې په ماشومتوب کې زده کېږي.

يو مثال : ماشوم ته ووايه چې فکر کوم خپه شوې چې احمد له تا سره لوبه ونه کړه... ممکن هغه نه وي خپه شوی خو که خپه وي او هغه خپل خپګان له تاسو سره شريک کړي نو بيا له احمد سره کينه نه کوي.

کله هم د غوصې، خپګان، خوشالۍ او بل هر ډول احساس په وخت د ستونزې حل لاره مه لټوئ. د دغسې عاطفي احساساتو په وخت مهمه خبره دا ده چې ماشوم خپل احساس شريک کړي او دغه احساس پټ نه کړي. که هره ستونزه وي په خپله ماشوم يې سمه حل لاره موندلی شي. که مو بيا هم زړه غواړي چې حل لاره وړاندې کړئ لږ صبر وکړئ چې په دغه عاطفي شېبو لږ وخت تېر شي.

دا ډېر لوی بحث دی هيله ده ميندې او پلرونه تر دې وړاندې چې ماشوم پيدا کړي په دې اړه دې کافي مطالعه وکړي.

## آرامش حقیقی



آنان که به دیار غربت سفر کرده‌اند، همواره حسرت زندگی در وطن را در دل دارند، و آنانی که در وطن مانده‌اند، رؤیای زندگی در سرزمین‌های غربی را در سر می‌پرورانند. اما حقیقتی ژرف در پس این خواسته‌ها نهفته است؛ هیچ‌یک از این دو گروه، آرامش حقیقی را نمی‌یابند. آرامش و سکون قلبی نه در جغرافیای خاصی، بلکه در پناه معرفت و شناخت خدای متعال جل جلاله یافتنی است. تنها در سایه‌ی توجه به این منبع بی‌پایان نور و رحمت است که می‌توان از اضطراب‌ها و دغدغه‌های بی‌جا رهائی یافت و به آرامشی عمیق و جاودان دست پیدا کرد. آن‌که به شناخت حقیقی خداوند نائل آید، در هر کجا که باشد، قلبی آرام و روحی مطمئن خواهد داشت. این معرفت الهی، چراغی است که راه تاریک زندگی را روشن می‌سازد و آرامش و اطمینان را به جان انسان می‌نشاند، فارغ از اینکه در کدام نقطه از جهان قرار دارد.

## جوان تنبل

مانند خفاشی در تاریکی، در بستر خواب غوطه‌ور است و از طلوع خورشید بی‌خبر. همچون سنگی بی‌جان، سنگین و بی‌حال، از خواب بیدار می‌شود و به دنبال راهی برای فرار از فعالیت می‌گردد. مانند شمعی خاموش، هیچ انگیزه‌ای برای شروع روز ندارد و در تاریکی افکار خود غرق می‌شود.

روز جوان ورزشکار پر از تلاش و ممارست، سلامتی و شادابی، و رسیدن به هدف است. اما روز جوان تنبل، سرشار از کسالت، پشیمانی و حسرت فرصت‌های از دست رفته!

انتخاب با شماست، آیا می‌خواهید طلوعی شاد و پرنشاط مانند جوان ورزشکار داشته باشید، یا غرق در تاریکی و کسالت جوان تنبل شوید؟

به یاد داشته باشید، هر روز فرصتی دوباره برای یک آغاز جدید است، انتخاب کنید که این طلوع را چگونه آغاز می کنید .

## د نزاکت پېژندنې او قدرپېژندنې لپاره ښه درس

لقمان حکیم ، هاغه روښان ضمیره او با تجربه پیر، د داسې یو کس غلام وو ، چې هغې ډېر غلامان درلودل ، خو دده بادار ته لقمان حکیم د خپلې هو ښیارۍ، پوهې فراست او نزاکت پوهیدنې په لحاظ ډېر ګران وو .

بادار يې د غلامانو په ډله کې لقمان حکيم ته يو خاص نظراو په تېره ډېره مينه يې ورسره درلودله .تر دې حده پوري چې په دسترخوان به ډوډۍ راغله نو د لقمان حکيم بادار به ورته لاس نه وروړو تر څو چې لقمان حکيم به ډوډۍ خلاصه کړه . ده به د لقمان حکيم وروسته پاتې ډوډۍ و خوړله، دا هغه لورينه وه چې د لقمان حکيم بادار لقمان حکيم ته د حکمت، پوهې، معرفت او نزاکت پوهېدنې له امله درلوده .يوه ورځ دده ارباب ته چا يو خټکی د ډالۍ په توګه راوړ، ارباب يې لقمان ته مخامخ کښيناست خټکی يې قاش قاش کړاو هره تره يا قاش به يې لقمان ته ورکوله، لقمان حکيم به هغه تره په ډېره اشتها او مزې سره خوړله، کله چې د ارباب پام دې ته راواوښته چې لقمان په ډېره مزه سره خټکی خوري نو وروستی قاش يې د خپل ځان د پاره واخيست او خپله يې وخوړ، ده چې د خټکي قاش صرف خولې ته نږدې کړ نو پوه شو چې لکه زهرتريخ دی او ستونی يې بلکل تريخ او حالت يې خراب شو، ارباب يې لقمان حکيم ته وويل: څنګه دې دا تريخ خټکی وخوړ؟ ولې دې د خوړلو څخه انکار ونه کړ؟ کولای دې شوای چې عذر او بهانه وکړې او دا تريخ خټکی ونه خورې؟ لقمان په خپل حکيمانه او له پنده ډک انداز کې ورته وويل: تا په کلونو، مياشتو، ورځو او عمرونو، ماته ډېرمزه داره او خواږه خواړه راکړي او په خپلو نېکو لورينو نازولی يم، دا د انصاف نه ډېره لېرې خبره وه چې يو ځل ستا د لاس نه په ترخو مې شکايت کړی وای. د حق پېژندنې او وفا دارۍ رسم دا تقاضا کوله چې د زهرو په نيشونو هم په خپله څېره او تندي کې ګونځې رانه ولم .

په رښتيا چې د نزاکت پېژندنې او قدرپېژندنې لپاره به تر ټولو ښه درس همدا وي.

دا حکايت په خپل وار سره د انسان په ضمير رڼا خوروی.

## کشف سه عدد از کهن‌ترین ستارگان کیهان در راه شیری



سه ستاره کهن‌سال که در کهکشان ما، راه شیری، پیدا شده‌اند ممکن است برخی از قدیمی‌ترین ستارگان کیهان باشند.

اولین ستارگان جهان عمدتا از جنس هیدروژن و هلیوم بودند، چون این تنها عناصری بود که در آن دوره بعد از مهبانگ وجود داشت.

اما عناصر سنگین‌تر در دل این ستارگان پدید آمد و این عناصر هنگام تشکیل نسل‌های بعدی ستارگان به آنها راه یافت.

میزان عناصر سنگین در داخل این سه ستاره حاکی از آن است که باید در حدود ۱۲ تا ۱۳ میلیارد سال قبل، به فاصله کوتاهی بعد از مهبانگ (بیگ بنگ)، تشکیل شده باشند.


این ستارگان با سرعت زیاد برخلاف جهت بیشتر ستارگان در کهکشان ما حرکت می کنند.

## دانشمندان راز اینکه مگس‌مرغ می‌تواند بدون برخورد با چیزی در هوا بال بزند را دریافتند.

مرغ‌زمزمه‌گر یا مرغ مگسی که به مرغ مگس‌خوار معروف است، مگس نمی‌خورد و به دلیل شباهت سرعت بال زدن به مگس تشبیه شده است و به دلیل صدای زمزمه‌مانند بال‌هایش مرغ زمزمه‌گر هم نامیده شده است.

یافته‌ها نشان می‌دهد این پرنده کوچک حس لامسه بسیار قدرتمندی دارد.

این پرنده می‌تواند تغییر فشار هوا که در اطراف هر چیزی به وجود می‌آید را احساس کند و دریابد.



## ښوونه او روزنه

ښوونه او روزنه په فزيکي (جسماني) ښکلاييز، روحي، ذهني، اخلاقي او ټولنيز لحاظ د انسان د ودې او انکشاف څخه عبارت ده، چې د هغې په وسيله انسان کولای شي مهارتونه زده او خپل کلتور درک کړي، کورنی مسئوليت په غاړه واخلي، خپل ځانته مسلک وټاکي او د خپلې ټولنې يو فعال او ګټور غړی شي.

زموږ په ټولنه کې د ښوونې او روزنې ارزښت ښوونه او روزنه د دوه سيکې او يا د يوې ونې د څانګې په څېر دی. که د سيکې يو مخ ناچل وي؛ نو د سيکې بل مخ هم د باور وړ نه دی. همدا رنګه که څانګې له وجود څخه پرې شي له منځه ځي؛نو دا ويلی شو چې ښوونه او روزنه دوه دا ډول مفاهيم دي چې يو له بله نه جلا کېږي. لکه چې وايي: ښوونه ښه ده؛ خو روزنه تر هغې لا ښه.

د نن ورځې پرمختللې ښوونه او روزنه، لوړې زده کړې او عصري علوم يو هم سملاسي او بې له يوې سابقې او تسلسله اوسنۍ او پرمختللې مرحلې ته نه دي رسېدلي. ټولو علومو او ورسره تعليم د پېړيو پېړيو واټن وهلی، لوړې او ژورې يې لېدلي او د انکشافي پړاوونو له تېرولو سره يې اوسنۍ حالت خپل کړی دی.

اوسني پوهان په دې اند دي چې د ښوونې او رزونې زده کړه يوازې د شيانو سپارل حافظې ته نه دي؛ بلکې زده‌کړه د پوهې، درک، احساس او تطبيق څخه يوه مرکبه عمليه ده. د پوهانو په اند ذهنيت په دوو برخو ويشل کېږي، يو منفي بل مثبت، زموږ هدف دلته يوازې په مثبت برخه دی. ذهنيت هم په فکري او فزيکي برخو ويشل کېږي. که چېرې د ښوونې په مفهوم کې دا درې اصول چې د مهارت، هدف لرل او زده‌کړې څخه يو اصل پاتې شي ښوونه نيمګړې ده، ښوونه معنا له لاسه ورکوي او هدف ته رسېدل ستونزمن کېږي.

ښوونې ته په اسلام مبارک دين او قران کې هم اشاره شوې ده په ټولو شيانو کې چې **الله** جل جلاله پيدا کړي لومړنی څيز قلم دی

Newspaper
# Marif
Weekly

**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**کتنپلاوي:** الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
معراج «زماني»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفراني»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوری»
**ډیزاینر :** محمد قسیم «نادم»

**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 279,2024

## د پوهنې وزارت د بودجې کمېټې ځانګړې غونډه تر سره کړه



د پوهنې وزارت د بودجې کمېټې غونډه، د یاد وزارت د سرچینو او اداري معینیت د کفیل او د دفتر آمر مولوي عبدالباري په مشرۍ په داسې حال کې جوړه شوه، چې د دغه وزارت د نورو معینیتونو استازو او کارپوهانو هم حضور درلود.
په دې غونډه کې د تېرې ناستې د پرېکړو د تطبیق ارزونه ترسره او له هغې وروسته د ښوونکو د مسلکي پراختیا، سفریو، د تخنیکي وسایلو د ترمیم، ودانیو، د تدریسي حق الزحمې د لایحې نهایي کولو، د تدارکاتي پلانونو او یو شمېر نورو مالي چارو په تړاو هر اړخیز بحثونه ترسره او لازمې پرېکړې وشوې.

## افتتاح سیستم برق آفتابی و اتاق کمپیوتر در یک مکتب ولایت غزنی به همکاری مردم



به حمایت مالی مردم معارف دوست و خیر اندیش ولسوالی جاغوری ولایت غزنی سیستم برق آفتابی و اتاق کامپیوتر مکتب برادران سروری در ساحه تیلوم آن ولسوالی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.
مردم محل به ارزش ۲۰۰ هزار افغانی ده پایه کمپیوتر، شش تخته سولر و سایر ملحقات آن را خریداری و بعد از نصب در مکتب متذکره مورد بهره برداری قرار دادند.
رهبری وزارت معارف از همکاری اهالی ولسوالی جاغوری ولایت غزنی تشکر نموده و کمک های مردمی را در ترقی و توسعه معارف ارزشمند توصیف نمود.

## د ننګرهار د مدارسو او ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ "راځئ چې کتاب ولیکو" تر نامه لاندې پروګرام پیل شو

په ننګرهار ولایت کې د مدارسو او ښوونځیو د ځوانانو او زده کوونکو د استعدادونو د ودې په موخه "راځئ چې کتاب ولیکو" تر نامه لاندې پروګرام پیل شو.
په یاد پروګرام کې زده کوونکي له راتلونکو آزموینو مخکې په خپلو لاسونو د پښتو او دري کتابونه لیکي.
د ننګرهار ولایت د پوهنې مسئولینو څرګندونو له مخې: د یاد پروګرام له پیل څخه یې موخه، لیک لوست ته د زده کوونکو هڅونه او د ځوانانو ترمنځ د لیک لوست د فرهنګ دودول دي.
د پوهنې مسئولینو وویل، چې زده کوونکو له یاد پروګرام څخه تود هرکلی کړی دی.

## کمک های مردم علم دوست ولایت ننگرهار به معارف

به اثر سعی و تلاش مسئولین معارف ولایت ننگرهار و همکاری های بی شائیبه مردم آن ولایت، مجموعاً در چهار ماه اول سال ۱۴۰۳ هجری شمسی باشنده گان علم پرور ولسوالی های ۱۸ گانه آن ولایت به هدف ترمیمات ساختمان های مکاتب، صنوف درسی، کلکین ها و غیره مبلغ ۹ میلیون و ۷۶۰ هزار و ۵۹۶ افغانی کمک جمع آوری نموده اند که در بخش ترمیمات و خریداری تجهیزات مراکز تعلیمی آن ولایت به مصرف رسیده است.



رهبری وزارت معارف از حمایت ها و کمک های مردم معارف دوست ولایت یاد شده تشکر می نماید.

## وقف ۶۹ جریب زمین برای ساخت مکاتب و مدارس در ولایت ارزگان

به ادامه حمایت ها و کمک های مردم به معارف درسراسر کشور، این بار اهالی علم پرور ولسوالی خاص ارزگان ولایتِ ارزگان، در مربوطات ولسوالی شان مجموعاً ۶۹ جریب زمین را برای ساخت ۴۲ باب مدرسه و ۴ باب مکتب وقف نموده اند.
اسناد زمین های یاد شده طی محفلی با اشتراک مسئولین معارف و سایر اداراتِ محلی، علمای کرام و بزرگان قومی رسماً به هیئت ریاست معارف ولایت یاد شده تسلیم داده شد.
ارزش زمین هایِ اهداء شده به معارف در آن ولسوالی جمعاً مبلغ ۷ میلیون و ۸۷۰ هزار افعانی می باشد.
این در حالیست که در ماه های گذشته نیز باشنده گان ولایات مختلف کشور صدها جریب زمین را برای ساخت مدارس و مکاتب وقف نموده و حمایت شانرا از برنامه های وزارت معارف برای توسعه و بهبود نظام آموزشی اعلام نمودند.
رهبری وزارت معارف از بابت حمایت و کمک های مردم معارف دوست افغانستان و به ویژه باشندگان خاص ارزگان از نظام تعلیمی شان، قلباً اظهار قدردانی نموده و کمک های آن ها را در زمره صدقات جاریه عنوان نمود.



## معرفی مکتب متوسطه محمد هاشم میوندوال

مکتب متوسطه محمد هاشم میوندوال در سمت شرقی شهر کابل واقع در سرک سوم کارته نو از موقعیت دارد.
متوسطه محمد هاشم میوندوال در سال ۱۳۵۲ هـ ش در




ابتدأ بنام متوسطه سید نور محمد شاه مینه تأسیس شد و در سال ۱۳۸۶ هـ ش به متوسطه محمد هاشم میوندوال تغییر نام نمود. این متوسطه از بدؤ تأسیس آن تا این دم ۴۰۲۶۴ تن شاگردانرا فارغ و به جامعه تقدیم نموده است. به گفته عبیدالله احرار مدیر متوسطه یاد شده در حال حاضر در این متوسطه ۴۳۲۹ تن شاگرد مصروف فراگیری آموزش می باشند که امور تدریسی آن ها از سوی ۱۳۰ تن معلم پیش برده می شود. وی می افزاید که با آغاز سال جدید تعلیمی ۱۴۰۳ هـ ش در کشور ۴۱۲ شاگرد به صنوف ابتدایی این مکتب جدیداً جذب شدند.
پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی در افغانستان چرخه بازسازی و نوسازی در تمامی عرصه ها به ویژه معارف به حرکت آمد که خوشبختانه بیشتر از دو سال ده ها مدرسه و مکتب در سراسر کشور ایجاد، بازسازی و نوسازی گردید که به این ترتیب برای هزار ها تن محیط مصئون آموزشی فراهم گردید. متوسطه محمدهاشم میوندوال نیز از این کاروان عقب نمانده و در این مدت تغییرات چشمگیر هم از لحاظ ظاهری و هم در کیفیت تدریس آن به وجود آمده است. مدیر متوسطه یاد شده اضافه نمود: که در این مدت توانسته اند تشکیل اداری این متوسطه را مطابق به نیازتنظیم کنند هم چنان کلکین ها، دروازه ها، تعمیر مکتب و تمامی میز و چوکی دوباره ترمیم و باز سازی شده است. فعال نمودن کمیته های هفتگانه، فراهم نمودن آب صحی آشامیدنی برای شاگردان و مهیا ساختن سهولت های دسترسی شاگردان به کتابخانه نیز از جمله فعالیت های عمده آنان بوده است.
موصوف تصریح کرد: تعلیم و تربیه شاگردان در این مکتب در سه تایم درسی تنظیم گردیده که دروس صنف اول الی ششم از سوی معلمین طبقه اناث و از صنف ششم الی نهم از سوی استادان طبقه ذکور پیش برده می شود.
آقای احرار گفت: به همکاری وزارت معارف توانسته اند دستآوردهای خوبی در عرصه تعلیم و تربیه و به ویژه فراهم ساختن زمینه آموزش برای باشنده گان ناحیه هشتم داشته باشند و تلاش می کنند تا سهولت های لازم تعلیمی را برای اطفال ناحیه مذکور بیشتر از این فراهم نمایند.
وی افزود: همکاری و تلاش برای رشد و بهبود نظام آموزشی مسئولیت هر شهروند کشور می باشد تا با معارف همکار باشند. نامبرده در اخیر از جوانان خواست تا در فراگیری علوم دینی و عصری تلاش کنند و خود شان را با زیور علم آراسته سازند تا بتوانند مصدر خدمات شایانی به مردم شوند.
او گفت : علم و دانش در کنار ایمان و اخلاق وسیله پیشرفت انسان است زیرا علم به ما روشنایی و توانایی می بخشد. علم زیبایی عقل است و ایمان زیبایی روح.

## کمک مالی مردم به مکاتب ولایت پکتیا

کمک مالی مردم به مکاتب در کشور از جمله به مکاتب ولایت پکتیا همچنان ادامه دارد. شوراهای مکاتب، جوانان و اهالی معارف دوست ولسوالی زرمت ولایت پکتیا برای بهبود وضعیت مکاتب و فراهم ساختن زمینه مصئون آموزشی برای شاگردان در یک اقدام کم پیشنه به ارزش بیش از یک میلیون افغانی کمک مالی نمود.
این کمک ها شامل ساخت ۵ صنف درسی و اداری برای مکتب لیسی حبیب الله زرمتی که هزینه یی آن بالغ بر یک میلیون و ۵۵۸ هزار افغانی میگردد، همچنان ساخت ۳ صنف درسی در مکتب ابتدایی زوړکوهی و ۲ صنف به لیسی اتفاق کلاگو به هزینه بیشتر از دو صد هزار افغانی و خریداری چند چادر خیمه به هزینه مجموعی بیش از ۶۰ هزار افغانی به لیسه های نسوان هزارخیل و ثانگه شهری آن ولسوالی میباشد.
رهبری وزارت معارف از کمک ها و حمایت های مردم، جوانان و شورا های مکاتب ولسوالی زرمت و لایت پکتیا استقبال نموده و از سایر هم وطنان نیز می خواهد تا نظام تعلیمی کشور را مورد حمایت های همیشگی خویش داشته باشند.

**ښوونه او روزنه د بشري ټولنې د پرمختګ یوازینی اساسي لار ده.**